# بشري اړتیاووته کره کتنه

۲۰۱۶

اړتیا لرونکي وګړي

۸,۱ میلیون

نوامبر ۲۰۱۵

عکاس: اندریو کیلتی



# افغانستان

Pashto version

دغه سند د هیواد د بشري ډلې او شریکانو په استازیتوب جوړ شوی دی

دغه سند د نورینونو او بشري اړتیاوو او هغو وګړو تخمیني شمیرې چې مرستو ته اړتیا لري ، د هیواد د بشري ډلې ګډ نظر څرګندوي. د شواهدو په بنسټ جامع معلومات برابروي او د ګډ ستراتیژیک ځواب ویلو د پلان په برخه کې مرسته کوي

په دغه راپور کې وړرکړل شوي توضیحات او وړاند ي شوي توکي د هیڅ یوه هیواد، سیمې، ښار او یا د کرښو او سرحدونو د محدودیت اړونده چارو او حقوقي وضعیت یا حالت په اړه د ملګرو ملتونو د سکرتریت د نظر څرګندونه نه کوي.

www.unocha.org/afghanistan

www.humanitarianresponse.info/en/operations/afghanistan

@OCHAAfg

# لومړۍ برخه:

## لنډیز

- بشري اړتیاوې او بنسټیزې شمیرې
- د ناورین اغیز
- اړتیا لرونکو چاپ
- داړتیاو شدت

# اړتیا لرونکي وګړي

## ۸,۱ میلیون



# بشري اړتیاوې

## اړتیاوې او لومړیتوبونه

د افغانستان ملکي وګړي په دوامداره توګه د روانو شخړو له امله رنځیږي چې د دغه شخړو ژور اغیز او جغرافیایی پراختیا ورځ تر بله په ډیریدو ده. د ۲۰۱۵ میلادی کال د سپتمبر په میاشت کې د کندوز ولایت د مرکز نیولو ځخه دا په ډاګه شوه چې شخړې په ۲۰۱۵ کې څومره بانډو او لویو ښارونو ته نږدې شوې دي. دافغانانو په ژوند د شخړو ډیریدونکي اغیزې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې، ډیره ویره، او بیاځلي بېځایه کیدو څخه په ګوته کیدای شي. پراخو شخړو لږ تر لږه د ۶،۳ میلیون افغانانو ژوند اغیزمن کړی او د ۲۰۱۵ میلادي کال تر سپتمبر پورې ۱۹۶،۰۰۰ څخه ډیر وګړي د کورونو پریښودوته اړشوي. چې د ۲۰۱۴ میلادي کال په پرتله ۶۴٪ ډیروالی په ګوته کوي. د په نښه شوو وژنواو په جګړو کې په زوره د ماشومانو د ګمارنې په ګډون د نړیوال بشري قانون او د خوندیتوب یا مصؤنیت له اصولو څخه د سرغړونو راپورو ورکړل شوی دی. په سویل ختیځ کې ۲۲۵،۰۰۰ هغه وګړي چې له شمالي وزیرستان څخه په ۲۰۱۴ کې راغلي تر اوسه په دغه سیمو کې میشت دي کوم چې په اوږدمهاله ناورین بدلیږي. په ۲۰۱۵ میلادي کال کې ډیر زیانمنونکي افغان کډوال هم له ګاونډیو هیوادنو راستانه شوي دي، چې ډیر یې د ډار او ویرې تر فشار لاندې دي. په ۲۰۱۵ میلادي کال کې ډیرو افغانانوپه هیواد کې د ناهیلی وروسته داروپا په لوري مخه کړې او د پناه غوښتنه یې کړې ده. په تولیزه توګه هغه وګړي چې له وړاندې اغیزمن دي د تاوتریخوالي له لوی خطر سره هم مخ دي. دوئ په لوړه کچه اړ کیږي چې خپل کور کلی او معیشت پریږدي، او په هیواد کې چې د سختې بیوزلي کچه لوړه ده، د شدیدې خوارځواکۍ سره هم لاس او ګریوان دي.



### بشري اړتیاوې

#### ۱ د ملکي وګړو ساتنه یا خوندیتوب

په ۲۰۱۵ میلادي کال کې د شخړو او تاوتریخوالي په کچه کې ډیروالی شیي . په دغه کال کې ۲۵،۰۰۰ امنیتي پیښې رامنځ ته شوي او د جنوري د میاشتې له پیل څخه تر سپتمبر میاشتی پورې ۸،۳۴۶ ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. وسلوالو نښتو زور اخیستی او د اوسیدو ځایونو ته نږدی غځیدلې دي. چې ۸۰ ولسوالی د شخړوله امله په لوړه کچه د اغیزمنوولسوالیو په ډله کې راځي. د خوندیتوب نورین له امله نږدې د۶،۳میلیونه وګړو ژوند خوندي نه دی، چې له امله یې ماشومان او ښځې په ډیریدونکي توګه اغیزمن کیږي.

#### ۲ دشخړو له امله بې ځایه کیدل

دهیواد په لراو بر کې د زور زیاتي له امله ډیرې کورنۍ خپل کورونه او کلي پریږدي او د هیواد دننه په نورو سیمو کې میشت کیږي. له دغه کورنیو سره ډیره لږه مرسته کیږي، او کور، اوبو، زدکړو او روغتیائی خدمتونوته یې لاس رسی ډیر لږ دی. دوئ اړ دي چې په کم پایښته او نا امنه حالت کې ژوند وکړي او د تیریو، د کوچنیانو د خرڅلاو او په کم عمر کې د ودونو د خطر سره مخ دي. دوي نه غواړي په داسې حال کې خپلو کورونوته ستانه شي چې د تاوتریخوالي خطر شتون لري

#### ۳ روغتیا ته لاسرسی

د زیاتیدونکی تاوتریخوالي له امله د بیړنیو روغتیایې خدمتونواو رواني فزیکي ترضیضاتو د مدیریت وړتیا له جدي کمښت سره مخ ده. د شخړو له امله روغتیایي خدمتونو ته لاس رسی چې لا پخوا ستونزمن وه، نور هم ستونزمن شوی دی. نږدې ۴۰ سلنه افغان وګړي په هغو سیمو کې ژوند کوي چې د روغتیایې اسانتیاو د پوښښ لاندې نه دي. د بېځایه شوو وګړو وضعیت، د سرپناه کمښت، د څښاک د کافي او پاکو اوبو کمښت، او سالم روغتیایی چاپیریال کمروزی وضعیت د خپریدونکو ناروغیو د خطر یومهم لامل ګڼل کیږي

#### ۴ د حادې خوار ځواکۍ درملنه

له ۳۴ ولایتونو څخه په ۱۷ولایتونوکې کې د خوارځواکې وضعیت د نړیوالې بیړنې قدمې له کچې څخه پورته شوی دی. یو ملیون ماشومان درملنې ته اړتیا لري او په هرو لسو امیدوارو یا شیدې ورکونکو میندو کې یوه یې له خوارځواکي سره مخ ده، چې ده داسی میندوماشومان هم د خوارځواکي له خطره اغیزمن کیدای شي. ۱،۵۷ ملیون وګړي د خوړو د خوندیتوب له جدي ستونزې سره مخ دي او ښځې او ماشومان تل د خوړو د کموالي له امله ډیر زیانمنونکي وي. د سوء تغذي یا خوارځواکۍ له امله د مرګ او ناروغیو خطرونه ډیریږي

## د بشري

# اړتیاوو ځانګړي ارقام

د ټولو وګړو او اړو خلکو شمیره د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر دمیاشتې په اساس د بشري حالت استازیتوب کوي



# بحران یا شخړې

## اغیزه

په نړۍ کې افغانستان یو د بېوزلوو او وروسته پاتې هیوادونو څخه دی. د د یوې لسیزې خورا زیاتو نړیوالو مرستو سربېره بېوزلي، نااندولي اونه ټیکاؤ په هیواد خپور دی. په ملیونونو افغانان په سختې بېوزلې کې ژوند کوي او هڅه کوي څو خپلې بنسټیزې اړتیاوې پوره کړي، چې ددوئ هڅې نه بریالې کیږي او په پایله کې مزمنه خوارځواکي، د خوړو شدید کمښت او د مورماشوم مړینه چې په نړیواله کچه ډېره لوړ ده، را منځ ته کیږي. د وګړودغه مزمن وضعیت، بشري ناورین نور هم خرابه کړی دی، چې په ۲۰۱۵میلادي کال کې د جګړو د شدت او جغرافیاېي پراختیا سره نور هم خراب شوې دي.

## شخړې

د افغانستان امنیتي حالت په جدي توګه د نړیوالو بهرنیو ځواکونو له وتلو سره خراب شو. ملي امنیتي ځواکونه تر جدي فشار لاندې دي، ځکه چې په ځوجبهو او کرښو کې، چې نوې جګړې پکې پیل شوې دي، د وسلوالو مخالیفینو سره په جګړه کې بوخت دي تر څو د هغه سیمو امنیت خوندي کړي.

په یو وخت کې د شخړو له امله د ډېرو ولایتونو اغیزمن کیدل ۲۰۱۵ میلادي کال له ځانګړتیاوو څخه ده او په لویه کچه یې د خوندیتوب ناورین را منځ ته کړی دی چې له امله یې ۶،۳ ملیونه وګړي اغیزمن شوي دي.

په لاس جوړشوي چاودیدونکي توکو کارونه او د دښمن د تشخیص نه پرته بریدونه اوس هم دوام لري. خو اوس د ولسوالیو مرکزونو باندې بریدونه ډېر او سخت شوي دي، چې په مستقیمه توګه په ټولنو اغیز کوي او د وګړو په منځ کې یې ویره او تردید را منځ ته کړی دی. د اوسیدود ځایونوته د جګړو نړدیوالي اثر په ملکي وګړو ډېر شوی دی. د شتمنیو له منځه تلل ، تاوتریخوالی او ګواښنه ډېر معمول شوی دی او هلکان او نجوني په زور سره د وسلوالو مخالفیونو او ملیشو په ډلو کې ګمارل کیږي. د نړیوال بانک د رواني روغتیا څیړنه دا په ګوته کړې چې په افغانستان کې ترنیما ئ ډېر وګړي چې تر ۱۵ کلو پورته عمرلري د ترضیض او رواني-ټولنیزو ستونزو سره لاس او ګریوان دي.



### د اداري مرکزونو نیول کیدل

په ۲۰۱۵ ‎%۷۵۰

دمخالفینو له لوري د ولسوالیود مرکزونوپه نیولو کې لوړوالی راغلی

تر دې دمه په ۲۰۱۵ کې د ۲۳ ولسوالیو مرکزونه وسلوالو مخالفینونیولې چې د ۲۰۱٤ کال په همدې موده کې ۳ مرکزونه نیول شوي وو.

### د سختو شخړوسره مخ




### د شخړو له امله بېځایه شوي




* په سپتمبر کې د نویو بېځایه شوشمیرندی معلوم نو له دې امله د ۱۹۷,۰۰۰ شمیره کې ندي شامل شوې

## د ۲۰۱۵ میلادي کال د جنوري میاشتې تر سپتمبر میاشتې پورې د ۸،۳۴۶ ملکي وګړو مرګ ژوبله  ثبت شوې ده.

د اسلامي دولت په نوم د نوې ډلې را منځ ته کېدو سره په شخړو کې زیاتوالی راغلی او د خوندیتوب اندېښنې په څرګند ډول زیاتې شوې دي. د دې ډلې شتون په ځینو سیمو کې د ۱۱ کلینیکونو، ۵۷ ښونځیو د تړلو او د واکسین پروګرام د بندیدو لامل هم ګرځیدلی دی

## د ۲۰۱۵ میلادي کال د سپتمبر تر میاشتې  ۱۹۷،۰۰۰ وګړو د تاوتریخوالي او شخړو له کبله خپل کورونو پرېښودلي دي چې د ۲۰۱۴ میلادي کې د ورته مودې په پرتله ۶۴ سلنه ډیروالی ښیي

په ټول هیواد کې درنو جګړو، خرابیدونکې امنیتي حالاتو او ګواښونو په زرګونه خلک بېځایه کیدو ته اړکړي دي. د ۲۰۱۵ میلادي کال په اوړي کې، د هیواد له ۳۴ ولایاتو څخه په ۲۱ کې یې تر یوې کچې د بېځایه کیدلو راپورونه ورکړل شوې دي. د بشري لاسرسي په وړاندې خنډونه ددې لامل شوی دی چې ارزونه، او  د بېځایه شوو د کره شمېر معلومول او  مرسته رسول ترسره نشي. بېځایه کیدنه هر وګړی د ارتیا، زیانمنې، او د خوندیتوب د خطرونو په بنسټ چې د وخت په تیریدو سره را منځ ته کیږي او د بېځایه شویو وګړو د مقابلې ورتیا کمزورې کوي، په بیله توګه اغیزمنوي، همدارنګه د لومړۍ بې ځایه کیدو وروسته په کمه کچه لومړنۍ بیړنۍ مرستې ورکول کیږي چې بسنه نه کوي. نیمګړې سرپناه، د خوړو نه خوندیتوب، په کمه کچه د حفظ الصحې او روغتیایي اسانتیاوو ته لاسرسی او همدا رنګه د خوندیتوب یا مصؤنیت نشتون د بېځایه شویو وګړو ژوند هوسانیه او وقار له خطره سره مخ کوي.

## د ارزول شویو بېځایه شویو څخه ۴۸ سلنه یې ښځې، ۵۷ سلنه یې ماشومان او نږدې ۲۰ سلنه یې له تر پنځه کلونه د کم عمرلرونکي ماشومان دي

په ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ کلونو کې په ټولیزه توګه ۳۱۴،۰۰۰ تنه بېځایه شوي وګړي ثبت شوي دي چې ډېره شمېره یې په ښارونو کې میشت شوي دي. په  ۲۰۱۵ کال کې نورې بېځایه کېدنې په دغو سیمو فشار ډیر کړی دی او د ژوند په حالت اود خدمتونوته په لاسرسي یې منفي اغیزه کړې ده. بېځایه شوې کورنۍ اړې دي چې خپل ماشومان کار ته ولیږي، پور واخلي او د خپلې تولنې څخه بهر له له تاوتریخوالي او تیرې ډکې اړیکې جوړې کړي.  سره له دې چې دوې له داسې وضعیت سره مخ دي خو  د پراخیدونکو نا امنیو له کبله داسې نه ښکاري چې په لنډه موده کې دې د بېرته ستنیدو لپاره زړه ښه کړي.

## د پوښښ دکمښت او د روغتیائي خدمتونو د ګډوډۍ له امله په کال ۲۰۱۵ کې د عامه ساري ناروغیو پیښې زیاتې شوې دي

د ۲۰۱۵ میلادي کال د جنوری له میاشتې څخه تر آګست پورې  د شري  ۱۶۹ پیښو راپور ترلاسه شوې چې د تیر کال د همدې مودې په پرتله ۱۴۱ سلنه ډیروالی په ګوته کوي د دغه پیښو ډیر شمیر یې په هغو ولسوالیو کې رامنځ ته شوی چې شخړې ، بېځایه کیدنه اود روغتیائي خدمتونو په وړاندې د لاسرسي عمومي خنډونه وه.  په ټول هیواد کې روغتیایي خدمتونو ته لاس رسی مخ په کمیدو دی او روغتیائي پوښښ ۶۴ سلنه دی.  په خوراو خواکې  د یو میلیون اټکل شویو اخته ماشومانو څخه یواځې ۳۰ سلنه یې درملنه کیږي.



## په کوردننه بېځایه شوي، پاکستاني کډوال او زیان منونکي افغان را ستنیدونکي

زیامنونکي افغان راستنیدونکي
(جنوری- سپتمبر ۲۰۱۵) ټول له
۱۳۷ ,۰۰۰

د پاکستانی کډوالو نوم لیکنه
۲۰۱۵د سپتمبر
۲۲۵ ,۰۰۰

دشخړو له کبله نوی بېځایه شوي
(جنوري-سپتمبر ۲۰۱۵) ټول له
۱۹۷ ,۰۰۰




روانې شخړې په پرلپسې توګه زیان منونکې بې ثباته کړې

**۲۰۱۳د می**
د سیمیزو وسلوالو له لورې د ملکي وګروپه نښه کولو کې چټک لوروالی راغلی دی. دغه ګواښونه د اوسنیو او پخوانیو شخړو تراو په ګوته کوي.

**۲۰۱۳د نومبر**
په غورولایت کې شخړې او ناامنې ددې لامل شوې چې د هرات په لور د بېځایه کیدوو خوځښت پیل شي تر څو دغرنیو سیمو وګړې له سخت ژمي څخه هم خوندي پاتې شي.

**جنوري ۲۰۱۴**
د افغانستان د ګډې بشري بودجې پیلیدنه ډیرو بیرنیوبشري ارتیاوو ته مالي مرستې برابره وي.

## د ژوند ا نه ناوړه شر یط ، بېځایه کېد نې ، زیانمنونکې کډوالي او له اسناداو پرته راستېدنې د عامې روغتیا بېړنی حالت لوړ کړی ده او په دې توګه  د کوچنیانو د خوارځواکي ستونزه نوره هم جدي شوې ده.

روغتیایی اسانتاوې تر ډېر فشار لاندې دي او د دې اسانتیاوو د جذب د ورتیا محدودیت په ځانګړې توګه بې ځایه شوي او بې اسناده راستېدونکي اغېزمن کوي او دغوخدمتونو ته د دوئ لاس رسی نور هم محدود کوي.

## د ۲۰۱۴  میلادي کال د جون میاشتی راهیسې۲۲۵،۰۰۰ وګړي د افغانستان په سویل ختیځ کې د کډوالو په توګه مېشت شوي دي

د هغو کډوالو چې په خوست او پکتیکا کې مېشت دي۸۰  سلنه یې په نیمګړو کورونو او یا موقتي سرپناوو کې ژوند کوي، چې د ژمي په رارسیدو سره دغه موضوع  ډېره د اندیښنې وړ ده. د یو اټکل له مخې د ۷۰ سلنه کډوالو روغتیایي اړتیاوې ندي پوره شوې او  که دا وضعیت دوام ومومي نو دا شمېره ډېرېدی هم شي. پاکو اوبو ته لاسرسی د اوسنې سیستم په دوام پورې اړه لري. د یوې څېړنې له مخې په ۲۰۱۵ کال کې د ارزول شویو وګړو څخه ۷۰ سلنه کډوال د پاکوالي او د حفظ الصحې په برخه کې مرستو ته اړتیا لري. کډوال  په بشپړه توګه د خوراکي توکو په ویش متکي دي او په ۲۰۱۵ کال کې د خوراکي توکو معیاري کچه ۳۰ سلنه کمه شوې.  د بیلابیلو خوراکي توکو سرچینو ته د لاس رسي د کمښت له امله د کډوالو په منځ کې د خوارځواکۍ کچه ډېرېږي، چې د بېړنې وضعیت کچه ته نږدې شوې ده.

## په ۲۰۱۵ میلادي کال کې د افغان کډوالو او د اسنادو نه لرونکو را ستنیدونکو په شمېر کې د پام وړ ډېروالی  راغلی دی.

د ۲۰۱۵  میلادي کال په لومړیو شپږو میاشتو کې په  رسمي توګه، په خپله خوښه او اجباري راستنیدنې کې د ۲۰۱۴  میلادي کال د ورته مودې په پرتله د پام وړ ډېروالی راغلی دی. دراستنیدونکو د چارو څارنې ښيي چې کډوال په پرله پسې توګه له ګواښونو او فشار سره مخ دي، چې دغه کارددوئ  بېرته راستنیدو له ستونزو سره مخ کړې ده





کډوالو ته د راستنیدو په مهال د لیږد په مرکزونو کې مرستې ورکول کیږي چې د معمول په ډول د دوه میاشتو لپاره بسنه کوي. په ټولنه کې د اوږدمهالي یوځای کیدنې په برخه کې د راستنیدونکو په وړاندې ډیرې اندیښنې او ننګونې شتون لري. غیر رسمي راستنیدونکي د اسنادو د نه شتون له امله له ډیرو ستونزو سره مخ دي، ځکه چې دوی له حقوقي اړخه هم زیانمنونکي دي.

## په افغانستان کې طبیعي پیښې را منځ ته کیږي

افغانستان د طبیعي پیښو لکه زلزله، سیلاب، وچکالي، د ځمکې ښوییدنې او د واورې ښوېدنې ځخه اغیزمن هیواد دی. د دې لسیزو جګړو د چاپیریال د وضعیت خرابتیا، اود طبیعي پیښو د خطر د کمښت د ستراتیژۍ په برخه کې د لږې پانګې اچونې له امله د ناځاپي او طبیعي پیښو په وړاندې د افغانانو زیانمننه ډیره او په وړاندې یې د مقاومت وړتیا کمه شوېده. په منځنۍ کچه هر کال د طبیعي ناورینونو او پیښو له امله ۲۰۰،۰۰۰ وګړي اغیز من کیږي. د ۲۰۱۵ کال. د اکتوبر د میاشتې زلزله چې د افغانستان په شمال ختیځ کې را منځ ته شوه، کیداې شي چې د سږ کال شمیره لوړه کړي. دغه زلزلې د هیواد ۱۵ ولایتونه اغیزمن کړل اوله ۱۲۷،۰۰۰ ډیر وګړي یې یو ډول بشري مرستوته اړ کړي دي.

## ۲۰۱۶ ته کتنه: د تاوتریخوالي یا شخړو شدت او د بشري اړتیاوو ډیریدل

سره له دې چې د افغانستان د سولې پروسې لپاره مثبت ګامونه پورته شوي دي، خو په عمل کې د جګړو ډیروالی د ناڅرګند وضعیت او تاوتریخوالي ښکارندوی دی. د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر په میاشت کې د طالبانو په لاس د کندز ښار پرځیدل له ۲۰۰۱ کال نه را پدیخوا د یو ولایت لومړی مرکز وه چې په جګړه کې د طالبانو لاس ته پریوت. په ګټو سیمو او کرښو کې د ستراتیژیکو بریدونو د دوام ځخه دا په ګوته کیږي چې د هیواد حالات ډیر نازک دي او د ګټو ډلو له لوري په اوږدو جګړو باندې اخته دی. په دې توګه، دغه ډول حالاتو کې د بشري مرستو اړتیا به نوره هم ډیره شي.

په ۲۰۱۵ کې دشخړو شدت




د شخړو د شدت اندازه دریو شاخصونه لری امنیتي پیښې، د ملکي وګړو مرګ ژوبله او د شخړو له کبله بیځایه کیدنه، چې دلته د ۲۰۱۵ د جنوري څخه تر سپتمبر پورې شودل شوي دە. د درجه بندي د طریقو تفصیل د افغانستان د بشري غبرګون په ویب سایت یا انترنیتي پاڼه کې موندلی شئ.

د خوست په ولایت کې افغاني پولې ته څېرمه د شمالي وزیرستان د ګولان د کډوالو په پنډغالي کي ماشومان د اوبولوښي ډکوي. کورته د تللو په لاره کې له هغې سیمې تیرېږي چې ماینونه پکې خښ دي او اوس مهال بې د پاکیدو کار روان دی. هلوترست یو له هغو موسسو څخه ده چې په سیمه کې د ماینونو د پاکولو مسؤلیت لري او دا پروسه هغه وخت پیل شوه کله چې په ۲۰۱۴ کال کې دپنډغالي د جوړېدو په وخت کې هلته د ټانګ ضد ماینونه او نور ناچاودي توکي موندل شول او بیا چاودنه ورکړل شوه .

عکاس: اندریو کیلتی



# د اړو وګړو

# درجه بندي

۸،۱ میلونه وګړي بیړنیوبشري مرستوته اړتیا لري. اړتیاوي په هغه سیمو کې ډیرې دي چې چیرته چې  پراخه تاوتریخوالی او جګړې دي، خو د ټیکاؤ نشتون او پرمخیتایي فعالیتونو کې کمښت ددې لامل شوی دی چې اوږدمهالي ستونزې په حادو ستونزو بدلې شي او باید بیړنی ځواب وینه ورته وشي.

د ۱،۷ میلیون هغه وګړو سربیره چې بنسټیزه روغتیایي خدمتونوته لاسرسی نلري، یو ملیون ماشومان هم د حادې خوار ځواکۍ له امله درملنې ته اړتیا لري . د ناورینونو تر ټولو لوی قربانیان ماشومان دي.

## د اړو خلکو شمیره

**۸,۱ میلیون**

## د سکتوریا ګروپ په اساس د اړتیالرونکو ویش

| | د حالت له مخې | | | | | د عمر او جنس له مخې | ټول | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | شخړو بېځایه کړي | شخړو اغېزمن کړي | کډوال او راستنیدونکي | طبعي پیښو اغیزمن کړي | بیړني روغتیا خطر | خوارځواکي او دخوړو کمښت. | دښځینو ٪ | دماشومانو، ځوانانو او مشرانو ٪* | اړتیا لرونکي وګړي |
| بیړنی سرپناه او غیر خوراکي توکي | ۰,۲ ملیون | – | ۰,۳ ملیون | ۰,۲ ملیون | – | – | %۴۹ | %۵ \| ۳۷ \| ۵۸ | ۰,۷ ملیون |
| دخوړو خوندیتوب او کرهنه | ۰,۲ ملیون | – | ۰,۳ ملیون | ۰,۲ ملیون | – | ۰,۱ ملیون | %۴۹ | %۶ \| ۳۶ \| ۵۸ | ۱,۷ ملیون |
| روغتیا | ۰,۲ ملیون | ۱,۷ ملیون | ۰,۳ ملیون | ۰,۲ ملیون | ۰,۷ | – | %۴۹ | %۶ \| ۴۱ \| ۵۳ | ۳,۱ ملیون |
| تغذیه | – | – | ۰,۱ ملیون | – | – | ۲,۸ ملیون | %۵۳ | %۰ \| ۸ \| ۹۲ | ۲,۹ ملیون |
| ساتنه | ۰,۲ ملیون | ۱,۰ ملیون | ۰,۳ ملیون | ۰,۲ ملیون | – | – | %۴۹ | %۶ \| ۴۰ \| ۵۴ | ۱,۷ ملیون |
| اوبه، پاکوالی او حفظ الصحه | ۰,۱ ملیون | – | ۰,۲ ملیون | ۰,۲ ملیون | ۰,۲ ملیون | ۰,۹ ملیون | %۵۱ | %۲ \| ۲۱ \| ۷۷ | ۱,۵ ملیون |

*ماشومان (<۱۸ کلن), ځوانان (۱۸-۵۹ کلن), مشران (>۵۹ کلن)

## د افغانستان خلک په یواوړدمهاله ناورین کې را ګیرديِ  اود یوې لسیزې خورا زیاتو مرستوسربیره د بیوزلۍ کچه په هیواد کې ډیره لوړه ده

د حکومت  د ۱،۸ بیلیونه ډالره عوایدو نږدې نیمه برخه یې په ملي امنیت لګول کیږي، په امنیت باندې د لګښت دومره کچه په نړۍ کې په بل هیواد کې نه لیدل کیږي. له همدې امله په پرمختیایی پروژو او بنسټیزو خدمتونو لګښت ډیر کم دی. د بې روزګارۍ له ناورین سره، د افغانستان دولت نشي کولای چې د خپلو خلکو اړتیاوې پوره کړي.

په ناڅرګند حالت کې، په راتلونکې کال کې د بیرنیو بشري ډیرو مرستو شتون اړین دی، ترڅو چې د شخړو له امله را منځ ته شویو اغیزونو ته په چټکه ځواب وینه وشي. د پرمختیایي مرستو په اندازه کې  په چټکه کمښت به په هغو وګړو بده اغیزه وکړي چې وار له مخه زیانمنونکي وه، او ورسره به د بیځایه شویو د سرپناه او خوړو غوښتنو اړتیاوې چې د نورو پیښو  د زغم وړتیا نلري، ډیرې کړي. په ۲۰۱۶ میلادي کال کې کرهنیزو حاصلاتو باندې باید پام وساتل شي، ځکه چې افغانستان اقلیم نیمه وچ دی او د غنمو ښه حاصلات د اورښتونو په کچې پورې اړه لري.

### اړتیالرونکي وګړي
( د ۲۰۱۵ سپتمبر ،په میلیون)

| سیمه | د حالت په بنا: شخړو بیځایه کړي | د حالت په بنا: شخړو اغیزمن کړي | د حالت په بنا: کډوال او خطرمنونکي راستنیدونکي | د حالت په بنا: طبعي پیښو اغیزمن کړي | د حالت په بنا: بیړني روغتیائی خطر | د حالت په بنا: خوار ځواکي او د خوړو کمښت | په عمر: ٪ د ښځینوو | په عمر: ٪ د ماشومانو ځوانانو او مشرانو * | ټول ټال: اړتیالرونکي وګړي |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| پلازمنیه | ۰،۰۳ | ۰،۵۵ | ۰،۰۳ | ۰،۰۴ | ۰،۱۲ | ۰،۷۳ | %۵۱ | %۳ / ۲۷ / ۷۰ | ۱،۵ |
| لوړه غربي سیمه | – | ۰،۰۱ | – | – | ۰،۰۷ | ۰،۱۵ | %۵۰ | %۴ / ۲۹ / ۶۷ | ۰،۲ |
| ختیځ | ۰،۰۲ | ۰،۲۱ | ۰،۰۵ | ۰،۰۸ | ۰،۱۰ | ۰،۳۲ | %۵۰ | %۳ / ۲۹ / ۶۸ | ۰،۸ |
| شمال ختیځ | ۰،۰۶ | ۰،۲۹ | ۰،۰۲ | ۰،۰۸ | ۰،۲۳ | ۰،۵۴ | %۵۰ | %۴ / ۳۰ / ۶۶ | ۱،۳ |
| شمال | ۰،۰۲ | ۰،۱۲ | ۰،۰۱ | ۰،۰۱ | ۰،۰۳ | ۰،۴۸ | %۵۱ | %۲ / ۲۳ / 75 | ۰،۷ |
| سویل ختیځ | ۰،۰۲ | ۰،۴۸ | ۰،۲۳ | ۰،۰۱ | ۰،۰۳ | ۰،۴۷ | %۵۰ | %۴ / ۳۰ / ۶۶ | ۱،۲ |
| سویل | ۰،۰۲ | ۰،۷۶ | – | – | ۰،۰۴ | ۰،۵۵ | %۵۰ | %۴ / ۳۲ / ۶۴ | ۱،۴ |
| ختیځ | ۰،۰۳ | ۰،۳۱ | ۰،۰۱ | ۰،۰۱ | ۰،۰۶ | ۰،۶۱ | %۵۰ | %۴ / ۲۹ / ۶۷ | ۱،۰ |
| | ۰،۲۰ ملیون | ۲،۷۴ ملیون | ۰،۳۶ ملیون | ۰،۲۴ ملیون | ۰،۶۹ ملیون | ۳،۸۵ ملیون | | | |

*ماشومان (<۱۸ کلن)، ځوانان (۱۸-۵۹ کلن)، مشران (>۵۹ کلن)

# د اړتیاوو

## شدت

په یو وخت کې د شخړو له امله د ډیرو ولایتونو  اغیزمن کیدل د ۲۰۱۵  میلادي کال له څانګړتیاو څخه ده او حتی په هغو سیمو کې هم شخړې شتون لرې چې په نسبي توګه یې امنیت ښه وو.

پداسې حال کې چې پخوا بشري اړتیاوې په سویل او سویل ختیځ کې ډیرې وې خو د دې برعکس اوس په شمال او شمال ختیځ کې جګړو زور اخیستی په ځانګړې توګه پې بدخشان، کندوز، فاریاپ او ننګرهار اغیزمن کړې دي ، چې له امله یې په ټول هیواد کې بشري اړتیاوې زیاته شوې دي.






په نقشه کی چی د ولایاتو تر مینځ د اړتیاو د شدت کوم مقایسوي انځور یا تصویر کښل شوې پکی د سکتورونو په بنا دوګړو اړتیاوته د مینځ دټکي په توګه کتل شوي. دتیر کال خلاف چی داغیزمنیدونکو وګړواړتیاوته پکی زیات وزن ورکړل شوی وه په ۲۰۱۵ کال کی د ړومبیتوب د حق لپاره د هغوشدیدواړتیالرونکووګړو اړتباو ته د کتو په حق کی فیصله کړی ده د نوروضاحت لپاره مهربانی وکړی د بشري غبرګون ویب سایت نه لیدنه وکړي.

# دوهمه برخه:
# د سکتور په بنسټ د اړتیاوو
# بیا کتنه

د سکتور په بنسټ معلومات

بیړنۍ سرپناه او غیرخوراکي توکي

د خوړو خوندیتوب

روغتیا

تغذیه

ساتنه

اوبه، پاکوالی او حفظ الصحه

د معلوماتو تشه او

ځیرنیزه کړنلاره

# بیړنۍ سرپناه او غیرخوراکي توکي

## کره کتنه

د ۲۰۱۵ میلادي کال په وروستیو کې د سرپناه اړتیاوې د دوه پرله پسې بیړنیو پیښو له امله زیاتې شوي چي یوه یې د شخړو له امله بې ځایه کیدل اوبله یې د اکتوبر ۷.۵ درجې ریکتر زلزله وه چي د افغانستان شمال ، شمال ختیځ او ختیځې سیمې یې ولړزولې. د ۲۰۱۵ میلاداي کال د سپتمبر تر پایه  تر۱۹۶۰۰۰نه ډیر وګړي د تاوتریخوالي او شخړو له کبله له  خپلو کورونو څخه تیښتي ته اړ شوي دي چي ډیرو یې خپلې شتمني او ملکیتونه هم په ځاي پریښي دي. د شخړو او تاوتریخوالي د زیاتیدوله وېرې ډیر وګړي خپلو کورونو ته نشي ستنیدلای. سر کال د بېځایه شویو یوازې دریمه برخه د دوستانو یا د کوربه ټولنو سره میشت شوي دي. د دغه بې ځایه شویو ډیره برخه په لنډ مهاله او ناکافي سرپناو کې ژوند کوي. د بېځایه شویو اوکوربه ټولنو دمقاومت وړتیا په چټکې سره په کمیدو ده. ډیرې هغه کورنۍ چې د ۲۰۱۴ میلادي کال د جون په میاشت کې شمالي وزیرستان څخه کډه شوي دي، په موقتي  سرپناوو کې ژوند کوي، او له یونیم کال وروسته بیا له ژمي سره مخ دي، او فزیکي او اقلیمي خوندیتوب نه لري.

## د اغیزمنو وګړو بشري اړتیاوې

د افغانستان اقلیم اوږد ژمي لري او په غرنیوسیمو کې چې د هیواد دریمه برخه جوړوي، هوا ډیره سړه وي.  د ۲۰۱۵ میلادي کال د اکتوبر د میاشتې زلزلې دهیواد ۱۵ ولایتونه اغیزمن او تر ۱۲۷،۰۰۰څخه زیات وګړي یې بې وږل بشري مرستو ته اړ ایستل. خو د هیواد په شمال ختیځ ولایت بدخشان کې، چې د زلزلې مرکز وه مالي زیان ډیر لوړ وه. جغرافیائي موقعیت، د سړکونو نشتوالی او امنیتي ستونزې هغه لاملونه دي چې اغیزمنوسیمو ته یې لاسرسی ستونزمن کړی دی.  په سیمه کې د ژمي را رسیدل به د بیارغونې کارونه تر پسرلي پورې په ټپه ودروي. له دې امله به په سلګونه هغه کورنۍ چې خپل کورونه یې له لاسه ورکړي داسې  بیړنیو مرستو ته اړتیا لري چې د ژمي په میاشتو کې ځانته خوندي استوګنځي پیدا کړي.

لکه  څنګه چې دکال تر پایه په شخړو کې کوم کمی تر سترګو نشو، له دې امله به ډیر بېځایه شوي وګړي نه یوازې د بدو امنیتي حالاتو له امله بلکې د سخت ژمي د رارسیدو له امله هم له خطر سره مخ وي. ډیر زیانمنونکي بېځایه شوي، کډوال او راستنیدونکي کورنۍ چې د خوندي استوګنځ ځایونو دکمښت سره مخ دي د ساتنې ، درناوي او کورنۍ چاپیرال خوندیتوب د نشتون له خطر سره هم مخ دي. همدارنګه د هغو کورنیلویه برخه چې په لنډمهاله سرپناوو کې ژوندکوي، راستنیدونکي چې د کډوالي اسناد نه لري او هغه چې په زوره را شړل شوي دي،   بنسټیزو خدمتونو ته لاسرسی نه لري. په ځانګړې توګه له ایران څخه بې اسنادو راستنیدونکي د کور توکي نه لري ځکه چې دغه  وګړوته لاس رسۍ ستونزمن دی.

### دعمر له مخې

%۵ مشران (>۵۹)
%۳۷ ځوانان (۱۸-۵۹)
%۵۸ ماشومان (<۱۸ کال)

### د جنس له مخې

%۴۹ ښځینه
%۵۱ نارینه

### د اړتیالرونکو وګړو شمیر

۰,۷ میلیون

### دشدت نقشه

- +





### کډوالو ته د سرپناوو مرستې

له ۵ څخه ۳
مرستو ته اړې کورنۍ



### بېځایه شوې کورني چې د سرپناه ملاتړ ته اړتیالري




### شخړې او طبعي پیښې



# د خوړو خوندیتوب

## کره کتنه

په تیرو دریو کلونو کې په دوامداره توګه د ښه کښت سربیره د نرخونو لوړوالی، د پیسو د را منځ ته کیدو، څمکو ته د نه لاسرسي او د مزدورۍ دکمښت له امله د خوراک د کمښت له خطر سره مخ وګړي له ۴،۷ سلنې څخه ۵،۹ سلنې ته لوړ شوي دي. د کار له امله کډوالي اود شخړوله امله  بېځایه کیدنې د ښارونود بیوزله وګړوشمیره زیاته کړې او هم یې د مزدورۍ په مارکیټ فشار زیات کړی دی. دطبعي پیښو او شخړوپه پایله کې د کډوالۍ له امله عایدات او حاصلات کم شوي او کورنۍ او ټولنې یې اغیزمنې کړې دي.

## اغیزمن وګړي

۱،۵۷ میلیونه خلک د خوړو له سخت کمښت سره مخ دي چې د ۲۰۱۴ کال څخه تر اوسه  ۳۱۷،۰۰۰  وګړي زیات شوي دي. په داسې حال کې چې د خوراک کمښت په افغانستان کې اوږدمهاله ستونزه ده ، خو هغه وګړي  چې د وروستیو پیښو له امله اغیزمن شوي دي، په خوست او پکتیکا کې کډوالو، راستنیدونکو او نویو بېځایه شویو کډوالو او د طبعي پیښو له امله د بېځایه شوو په ګډون، بیړنیو خوراکي مرستو ته اړتیا لري. کوم وګړي چې د خوراک له کمښت سره لاس او ګریوان دي له هغوی سره مرستې له دې امله هم اړینې دي ترڅو دوی د خوراک او روغتیایی ستونزو له زیاتوالي څخه وژغورل شي.

په افغانستان کې د خوړو شدید کمښت مخ په لوړیدو دی. په کلیوالي سیمو کې څمکه نه لرونکي د خوړو له شدید کمښت سره مخ دي ، پداسې حال کې چې د لږې څمکې لرونکي د پیسو په ورانديې زیانمنوکي دي. په ناامنه او لیرې پرتو سیمو کې د ټرانسپورټ لوړې کرایې، مالیه او د خطرونه بیمه د نرخونو د لوړوالي ستر لاملونه دي.  نا توانه کورنۍ له دې وضعیت سره د مقابلې  لپاره د کور شتمنۍ اوڅمکې خرڅوي چې دوئ  نورهم له خطر سره مخ کوي. د شتمنیو کمښت د کار په مارکیټ ډېره اغیزه کوي اوله کلیوالي سیمو څخه ښارې سیموته د تلولامل ګرځي.  غور، پکتیکا، هلمند، تخار، فاریاب، جوزجان، بامیان، نیمروز او خوست هغه ولایتونه دي چې د ۲۰۱۵ کال په هغه موسم کې چې کرنیز حاصلات نه وي، د لوړې درجې خوړو د کمښت سره مخ وو، چې له دې جملې څخه غور تر ټولو زیات د خوړو له کمښت سره مخ وه.

## د عمر له مخې




## د عمر له مخې




## د اړتیالرونکو وګړو شمیر

**۱,۷ میلیون**

## د شدت نقشه




## بشري اړتیاوې

په خوست او پکتیکا کې کډوال او راستنیدونکي جدي بشري مرستو ته اړتیا لري. په کلیوالي سیمو کې ډېری اوسیدونکي په کرهنه مالدارۍ او مزدورۍ تکیه کوي چې د طبعي ناورینونو او پیښو څخه سخت اغیزمن کیدای شي. بېځایه شوي  تر ټولو ستري بشري اړتیاوې لري ځکه  چې دوئ خپلو ځمکو ته لاس رسی نه لري اود مزدورۍ لپاره باید د نورو سره  سیالي وکړي او د سیالی د مزدورۍ بیه را ښکته کوي چې  په پایله کې بېځایه شوي د مقابلې توان له لاسه ورکوي، سږ کال د ناورینونواو پیښو سره د مقابلې  لپاره د ټولنې د شتمنیو کمښت  دوه برابره شوي دي.

## دشخړو له کبله بې ځایه شوي




## د خوړو شدید کمښت




## دغنموقیمت  (افغانی/کلوګرام)



# روغتيا

## کره کتنه



د شخړو شدت اود وسلوالو نښتو زیاتوالي او جغرافیايي پراختیا، او له جګړې څخه پاتې چاودیدونکي توکو او په لاس جوړ شوي چاودیدونکي توکو باندي د استوګنځایونوکړتیا افغان وګړي له سخت فزیکي خطر سره مخ کوي. دجګړو له امله تروما او ترضیضونه، فزیکي ټپونه او پراخه بیځایه کیدنه روغتیايي خدمتونواو طبي پاملرنوته د خلکو اړتیا زیاته وي، او د هیواد د روغتیايي سیستم اوسني بنسټيز خدمتونه او زیرمې نشي کولاي چې دغه اړتیاوې پوره کړي.

## اغیزمن شوي وګړي

د شخړو اوجګړو ډګر د ولسوالیوپه مرکزونو او لویو ښارونو کې د تولنو میشت ځایونه ته نږدې کیږي چې د ملکي وګړو په ژوندانه یې ډیرې بدې اغیزې کړې دي ، د کندز ښار یې یوه بیلګه ده. د ۲۰۱۵ میلادي کال د جنورې څخه تر سپتمبر میاشتې پورې د ۸،۳۰۰ ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې او ۱۹۶،۶۸۷ تنه له کورونو بیځایه شوي دي. نږدې ۴۰ سلنه افغان وګړي د روغتیايي خدمتونو د پوښښ څخه بې برخې دي او بنسټیزو روغتیايي خدمتونو لکه معمولي درملنه، د زیږون وړاندنې مراقبت، زیږون او د زیږون وروسته مراقبتي خدمتونو ته، د واکسینونو په ګډون لاسرسی نلري. په ۲۰۱۵ کال کې ټول ټال د ۲۵۴ روغتیايي پیښو راپور ورکړل شوی چې ۲۵۱ پیښې د جنورې او جون تر منځ موده کې تائید شوي پیښې دي، پداسې حال کې چې د تیر کال په همدې موده کې ۱۱۷ پیښو راپور ورکړل شوی وه.

د تاوتریخوالي له امله نیم ملیون وګړو ته د روغتیايي خدمتونو په وړاندې کولو کې ستونزې را منځ ته شوي دي. د وګړوبیځایه کیدل، د سرپناه کمښت، د پاکو اوبو کمښت او ناکافي نیمګړی سالم چاپیریال د خطر هغه فکتورونه دي چې د ډیرو وژونکو ساري ناروغیو خپریدو ګواښ یې ډیر کړی دی.

## دعمر له مخې




## دجنس له مخې




## اړتیالرونکي وګړي

**۳,۱ میلیون**

## دشدت نقشه

\- / +



## بشري اړتیاوې

افغان روغتیايي سیستم په کافي توګه زیرمې نلري چې د د کتلوي مرګ ژوبلې په وړاندې ځواب وینه وکړاې شي او یا هم د جګړې ټپیانو ته بیړنۍ روغتیائي درملنې، درجعت یا لیږد سیستم او جراحي پاملرنې برابرې کړي. د روغتیايي خدمتونو او سرچینو د وړاندې کولو لپاره تر ډیره کچې په بشري مرستوتکیه کوي. سربیره په دې د کمزوري پوښښ او محدودې وړتیا له امله اوسني روغتیايي خدمتونه ددې توان نه لری چې په لویه کچه د بیځایه شو دخوځښت او د کډوالو او راستنیدونکو کورنیو چې ګڼ شمیر یې ښارونه ته مخه کوي، تر پوښښ لاندې ونیسي. روغتیائي اسانتیاوو ته لږ لاسرسی دهغو کورنیو د ژوندانه وضعیت ډیر خرابه وي چې د خوراک پیرودل او لګښت یې نابسیا وي، دوې په چټکۍ سره د ناروغیو په وړاندې د مقاومت وړتیا له لاسه ورکوي، د خوارځواکي له ګواښ سره مخ کیږی اود انتاني ناروغیو د خپریدو له ویرې سره لاس او ګریوان کیږي.

## راستنیدونکی کډوال

له **۵** څخه **۳**
روغتیائي مرستو ته اړتیا لري نیاز



## هغه وګړي چې روغتیائی خدمتونه ندي ورته رسیدلي




## دشرى یا (سرخکان)پیښې او دهغه خپریدنه



# خواړه یا تغذیه

## کره کتنه

د افغانستان د حکومت او شریکانو د هلو ځلو سربیره د خوړو یا تغذیې حالت په ناوړه وضعیت کې پاتې دی. د هیواد نیمګړې پرمختیا د خوارځواکې په ډېروالې کې منفي اغیز لري، او د بنسټیزو روغتیایی خدمتونو کمښت ددې لامل کیږي چې د ماشومانو او ښځو د اغیزمنې درملنې وړتیا محدوده شي. تر یوملیون ډیر ماشومان د حادې خوار ځواکي د درملنې اړتیا لري، او لږ تر لږه د هیواد په ۱۷ ولایتونو کې د خوارځواکي وضعیت د نړیوالې بیړنې قدمې له کچې څخه پورته شوې دې. د شخړو له امله د خوارځواکې اوسنی وضعیت لکه د کورنیو نا کافي خوراک ، کمزوری غذایی رژیم، نیمګړي روغتیایی خدمات ، د حفظ الصحه ناوړه چاپیریال مورماشوم ته کمه پاملرنې، نور هم خرابه شوې دې.

## اغیزمن شوي اوسیدونکي

په حاده خوارځواکي د پام وړ اخته ماشومان درملنې ته لاسرسی نه لري. د روغتیاې خدمتونو وړاندې کوونکې پدې نه توانیږي چې په عادي ډول مناسب خدمتونه وړاندي کړي، او د پیژندل شویو بیړنیو قضیو د ځواب وینې وړتیا خو هیڅ نلري. په اوسني حالت کی روغتیائی خدمتونه یواځې ۶۰ سلنه وګړوته رسیږي، چې لدې جملې څخه یوازې ۴۰سلنه یې د تغذیې خدمتونه هم وړاندی کوي. په روغتیایې مرکزونو او د ټولنې په کچه د کارکونکو شمیره کمه او جوړښت ناسم دې، د خدمتونو د وړاندې کولو محلونه کافي نه دي، د روغتیایې کارکونکو د تشخیص وړتیا محدوده ده او د حادې خوارځواکې د جامع مدیریت پوښښ محدود دې. ځیړنو ښودلې چی د اړونده توکو په وخت سره نه لیږد، د کورنیو او مراقبت وړاندې کوونکو له لورې د ماشوم د خوارځواکې په وخت سره د تشخیص محدوده وړتیا، په خوارځواکې اخته ماشوم روغتیایې اسانتیاو ته له دې امله نه لیږل چې روغتیایې اسانتیاوو کې د مراجعینو ګڼه ګڼه ډیره ده، او یا د روغتیایې مرکز څخه فاصله او د ماشوم د مراقبینو سره د نارینه نشتون د خوارځواکې د درملنې په وړاندې لوېې خنډونه دي.

د جګړوڅخه اغیزمنو ، ګډوالو او بیځایه شوې وګړو په مینځ کې ماشومان، امیدواره او شیدی ورکونکې میندې په ځانګړې توګه اغیزمنې کیږی اود خوراکي سرچینو د کمښت په مهال دوې له خوراکي توکو بې برخې پاتې کیږي. د کورنیو د بیاځلې بیځایه کیدو له امله را منځ ته شوې ستونزې او نه ټیکاو ددې لامل کیږي چې د ماشومانو د خوراکې ځارنه په فعالیتونو منفي اغیز وکړي. د مور شیدو په ورکړې کې ګډوډي، د مور د شیدو سره د اضافي خوراکي توکو د چمتو کولو د وړتیا نشتون، او د روغتیایې خدمتونو بشپړ نشتون د خوارځواکې خطرونه په دیره کچه لوړ کړي دي

### دعمر له مخی




### د جنس له مخی




### اړتیالرونکوګړو شمیر

**۲,۹ میلیون**

### دشدت نقشه






## بشري اړتیاوی

دهغو ماشومانو چی عمرئي -۰ ۵۹ میاشتی دې (او د هغوي د مراقبت کوونکو) دحادې خوارځواکۍ د درملنې دخدمتونو اړتیاوې او همدارنګه د تغذی او د روغتیا او تغذي اړوند پیغامونه، د نویو زیږیدلو او وړو ماشومانو د شیدو ورکولو مشورې اود خوراکي مېنرالي توکو اړتیاوي نه دې پوره شوي. د ۲۰۱۵ میلادې کال په دوران کې تر اوس مهاله د کلستر شریکان توانیدلي دي چې په ملي کچه اړو ماشومانو ته یواځې ۳۰ سلنه اړتیاوې پوره کړي.

### دشدیدی ناوړه تغذي حجم

له **۵** څخه **۱**

تر پنځه کلو کم عمر ماشومان



۲۰۱۳ NNS کلنی حجم

### دشدید ناوړه خوراک اندازه> ۳ سلنه اندازه




### یوع(PLW او GAM)ته نوی ننوتنه



# ساتنه یا مصؤنیت

## کره کتنه

ډیریدونکي تاوتریخوالي او شخړو په ملکي وګړو بده اغیزه کړې ده، چې ورسره دملکي وګړو مرګ ژوبله ډیره شوې او بې ساري بیځایه کیدنه را مینځ ته شوې ده. هغه وګړي چې د فشار او ګواښونو له امله خپلو کورنو پریښودو ته اړ شوي دي، نه غواړي چې بیرته ستانه شي او یا د بیرته ستنیدو وړتیا نلري، چې له امله یې اوږدمهالي بیځایه کیدنه را منځ ته کیږي. اجباري بیځایه کیدنه، وګړي په بیلابیل ډول اغیزمن کوي، په ځانګړې توګه ډیر زیانمنونکي د کوربه ټولنې او کورنیو د مصؤنیت یا ساتنې له خطرونو سره مخامخ کوي.

## د اغیزمن شویو وګړو بشري اړتیاوې

د ساتنې د اړتیاوو کچه د ټولو فعالینو د ځواب ویلو له وړتیا څخه لوړه ده چې له امله یې زیانمنونکي افغانان د درناوي او له خطر نه ډک وضعیت سره مخامخ دي. جګړې نه یوازې د ټولنې د ټیکاوو د له منځه تللو، د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې، په لوړه کچه بیځایه کیدو، له جګړې څخه پاتې چاودیدونکي توکو له امله د سیمو ککړتیا لامل شوې دي، بلکې بنسټیزو پرمختیایي هڅې او د ساتنې ټولو ادارو هڅې هم په منفي ډول اغیزمنې کړې دي. د وګړو په بنسټیزو حقونو په دوامداره توګه تیري کیږي. ماشومان له ځانګړې خطرونو سره مخ دي چې دغه خطرونه د بې ځایه کیدو سره نور هم جدي شوي دي او دغه خطرونه کیداې شي چې ناوړه کټه اخیستنه ، له نظره غورځول، یوازې پاته کیدل، استثماریدل ،په رواني او ټولنیزوناروغیو اخته کیدل ، ګمارنه، قاچاق، له کورني څخه بیلیدل، شاقه کارونه، په نشیې توکو اخته کیدل او د زده کړو څخه بې برخې کیدل وي. نجونې او ښځې په دوامداره توګه د ساتنې د تیري له خطر سره، په ځانګړې توګه د بې ځایه کیدو په مهال، مخ دي. د جنسیت پر بنسټ د سرغړاوي د بیلګو، لکه د کم عمر یا جبري ودونو، راپورونه ورکړل شوي دي. خدمتونو او حقوقي عدالت ته نه لاسرسي په ښځو نور اغیز هم کوي، په ځانګړې توګه په طلاق شویو او کونډې ښځو چې د شتمنیو د ملکیت، د کورونو څخه د شړلو او د اجباري واده له خطرونو سره مخ دي.

د داخلي بیځایه شویو د چارو د تلپاتي حل ستونزې په خپل ځای پاتې دي، ځکه چې د راستنیدو لپاره شرایط مناسب ندي، معیشت مناسب نه دی او مدني اسناد او مدارک هم شتون نلري، د کور ځمکو او ملکیت شخړې د اجباري شړلو د خطر په ګډون د اوږدمهال حل په وړاندې یې خنډ جوړ کړی دي. په ماین ککړو سیمو سربیره، له جګړې څخه پاتې چاودیدونکي توکو/ په لاس جوړ شوي چاودیدونکو توکو باندې د ککړو سیمو ډیروالي د ملکي وګړو د ژوند مخنیوی کوي او فزیکي خونديتوب یې له ګواښ سره مخ کوي، چې ماشومان په جدي توګه اغیزمن کوي. د شخړو قربانیان په ځانګړې توګه، معلولیت لرونکي وګړي، ځانګړو مرستو، فزیکي بیارغونې او رواني ټولنیزو ملاتړ ته اړتیا لري.

کډوال په پرله پسې توګه د جنسیت پر بنسټ د سپکاوي اود ماشومانو د ساتنې د تیریو له خطر سره مخ دي، په ځانګړې توګه د هیواد د تابعیت د نشتون له نګونو سره مخ دي چې تر ټولو لویه ستونزه زده کړو ته لاسرسی دی. راستنیدونکي کډوال ځمکو او د ملکیت اسناد ته لاس رسی نه لري او اړ کیږي چې په کم پایښته وضعیت کې ژوند وکړي. بې اسناده راستنیدونکي هم ورته ستونزې لري خو د اسنادو نه شتون له امله ډیرې کمې مرستې تر لاسه کوي، او د خپلو کورنیو موندنه، د یواځې یا مجردو ښځو لیږد، حقوقي مرستې او رواني-ټولنیزو مرسته ته هم اړتیا لري.

### دعمر له مخې




### دجنس له مخې




### د اړتیا لرونکو وګړو شمیر

**۱,۷ میلیون**

### د شدت نقشه

\- +



### دکورني بیځایه ماشومانو زدکړه

له ۵ څخه ۳

دکورني بیځایه شو ماشومان چې ښونځی ته نه ځي



### دکورني بیځایه شو ښځو لپاره اسناد




### دشخړوله کبله بیځایه کیدنه



# اوبه پاکوالی او حفظ الصحه

## کره کتنه

یو ګڼ شمیر وګړي د اوبو پاکوالي او حفظ الصحې په داسې شرايطو کې ژوند کوي چې د بشري معيار د اصغري کچې څخه هم ټيټه درجه ده، په ځانګړي توګه په نهو ولايتونو کې چې له دې امله مړينه او معلوليت پکې ډير لوړ دی. په ډيرو سيمو کې په ازاده فضا کې حاجت رفع کول د اندیښنې لامل ګرځيدلې دي، چې په ټوليزه توګه د حفظ الصحې کمښت د خوارځواکي او نس ناستي يو لوې لامل دې. د نا پاکو اوبو له امله خپریدونکې ناروغۍ او پيښې هم د اندیښنې وړ دي، او کولرا اوس هم په افغانستان کی په انديميک بڼه را منځ ته کيږي. په ټول هیواد کې ډيريدونکی تاوتريخوالی اوشخړې په پرله پسې توګه د ډيرو وګړو د بیځایه کیدو لامل ګرځي، او دغه بيځايه شوي د پاکو اوبو او حفظ الحصه اسانتياوو پرته په لنډمهاله سرپناه او يا له کوربه ټولنو سره چې لږ سرچينې لري ژوند غوره کوي، پدې توګه د هغو اغيزمنو ټولنو په روغتيا او تغذيې ناوړه اغيزه کوي.

## اغیزمن شوي اوسیدونکي

د شخړو او تاوتریخوالي له کبله بیځایه شوي وګړي په نويو لنډ مهاله سرپناوو کې د څښاک پاکو اوبو او تشنابونو ته لاسرسی نه لري. د خلکو ګڼه ګوڼه او دحفظ الصحه اسانتیاوو کمښت وګړي، په ځانګړې توګه ماشومان او زاړه ، په مرګوني نارغيو او ساري ناروغيو لکه تنفسي انتانات، نس ناستي، کولرا، ملاريا، خوارځواکي او شرې اخته کوي. په دغه ډول حالاتو کې د مياشتنی مودې، ميندوارو او شيدی ورکونکو ښځو د حفظ الصحه او پاکوالي اړتياوې هم نه پوره کيږي. کله چې بيځايه شوي د کوربه ټولنو سره اوسي نو په هغه صورت کې د اوبوسرچينې، د پاکوالي اسانتياوي او د حفظ الصحه ټوليز حالت باندې فشار راځي او په پايله کې غير روغتيايي کيفيت رامنځ ته کيږي اود ساري ناروغيو خپريدو لاره هواريږي.

## داړتيالرونکووګړو شمير

**۱,۵ میلیون**

## دعمر له مخې




## دجنس له مخې




## دشدت نقشه




## بشري اړتياوې

د بیځایه کیدو په حالت کې تر ډیره کچې دناپاکه اوبو له امله د ساري ناروغيو د مخنيوې لپاره د څښاک د پاکو اوبو، د حفظ الصحې بيرنيو اومناسبو اسانتياوو اود جامدو خځلو يا کثافاتو پاکولو ته ډيره اړتيا ده . همدارنګه د لومړيتوب په سيمو کې د حادې خوارځواکې او نس ناستې د پيښو د مخنيوي لپاره داسې اسانتياوو ته اړتيا ده چې په لوړه کچه د نس ناستي په ځانګړې توګه له پنځو کلو کم عمره ماشومانو کې، او يا هم وګړي په ازاده قضا کې حاجت رفع کوي، د خپريدو ويره وي.

## کډوالوته د اوبواو حفظ الصحه مرسته




## کورنی بیځایه شوي داوبو اوحفظ الصحه ته اړ دی




## شخړی او طبعی پیښی



# د معلوماتوکمښت اود ارزوني کړنلاره يا پلان

د کلسترپه مشرتابه کې د سکتوري ارزوني نشتون  ددې لامل ګرځي چې په پرله پسې توګه د حادو بشري اړتياوو معلومول، څېړل  او لومړيتوب ورکول له خنډ سره مخ شي. دمعلوماتو د نه شتون له امله هغه ستراتيژيک پلان خورا زيات کمزوری دی ترڅو دحادو او ډېرو مړينو کچه او لامل څرګند کړي. دبشري مرستو د همغږۍ اداره يا اوچا په پرله پسی توګه هڅه کړې چې  اړين معلومات د شواهدو په بنسټ وي  ترڅو بشري فعاليتونه نور هم اغيزمن او حساب ورکونکي شي.

د کلسترونو د ارزوني تر منځ د ډيري همغږي او د  شميرو راټولولو لپاره د يو ګډ او د منلو وړ معيار جوړولو سره به د معلوماتو راټولولو چارې ښې شي په ۲۰۱۶ ميلادي کال کې به د بشري مرستو د همغږۍ اداره، د اوږدمهالي بې ځايه شويو وګړو د سکتوري اړتياوو ارزونې چې د کلسترونو له لورې به ترسره شي، مشرې په غاړه ولري.




## دځيرنو شميره

۱۳۸

## د فعالانو شميره

۸۵

## د اړتياوو د څيرنې پلان شوي طرحې

۷

د خوړ خونديتوب



بيړنۍ سرپناه او غيرخوراکي توکي



(دوګړو دخوځښت څارنه) PMT



(چټکه ارزوني فورمه) RAF



اوبه اوحفظ الصحه



ساتنه



تغذيه



روغتيا



تعداد ارزیابی ها
۰ ۱ ۲ ۴ ۶ ۸ >۱۰

## د ځیړنو شمیر د سکتور او د ځای په اساس

| | بیړني سرپناه | دخوړکې شتون یا ساتنه | روغتیا | تغذیه | ساتنه | اوبه او حفظ الصحه | PMT | RAF | ټول |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| پلازمینه | ١ | ١ | ١ | ١ | ٢ | ١٩ | ٢٨ | ٩ | ٦٢ |
| مرکزي لوړه غرنۍ خوزه | | ١ | | | ١ | ١ | | ١٢ | ١٥ |
| ختیځ | ٢ | ١ | ١ | ٤ | ١ | ٢ | ٢٢ | ١٩ | ٥٢ |
| شمال ختیځ | | ١ | | | ١ | ٦ | ١٥ | ٢٦ | ٤٩ |
| شمال | | ١ | | | ٢ | ١١ | ٢٧ | ١٧ | ٥٨ |
| سویل ختیځ | ٦ | ١ | ١ | ٧ | ٢ | ٨ | ٢٠ | ٣ | ٤٨ |
| سویل | ٢ | ١ | ١ | ٥ | ١ | ١ | ١٣ | ٤ | ٢٨ |
| لویدیځ | ٢ | ١ | ١ | | ٢ | ٩ | ٣٠ | ٥٠ | ٩٥ |
| ټول | ٧ | ١ | ١ | ١٧ | ٣ | ٥٧ | ١٥٥ | ١٤٠ | |

## د اړتیاوو پلان شوي ځیرنه

| کلستر/سکتور | ځای | په نښه شوي وګړي | دمشرتابه اداره | پلان شوی نیټه | موضوع |
|---|---|---|---|---|---|
| د کلسترو تر مینځ | دکندزښار | بیځایه شوي او راستانه شوي وګړي شوي وګړي (c. ۱۵۰,۰۰۰) | OCHA | نوامبر ۲۰۱۵ | تر شخړو وروسته چټکه بشري (ارزونه)چټکه بشري ارونه |
| کډوال او راستنیدونکي | | راستنیدونکي | UNHCR | مارچ ۲۰۱٦ (نشریه) | د اړتیاووجامع ارزونه |
| خوړو خوندیتوب او کرهنه | په ټول هیواد کې (دنمونه ئی) | | تخنیکي ډله د IPC ، FAO، WFP، FEWSNET شریکي موسسي | فبروی تا مارچ ۲۰۱٦ | د راټولولو مرحله دخوراک د سخت ساتنی او شتون دتنظیم د نقشی نوی کونه |
| خوړو خوندیتوب او کرهنه | په ټول هیواد کې (دنمونه ئی) | | تخنیکي ډله د IPC ، FAO، WFP، FEWSNET شریکي موسسي | اپریل-می ۲۰۱٦ | تر ریبدلو د مخه دموسمي خوراک دشتون دارزښت ځیرنه (SFSA) |
| روغتیا | په ټول هیواد کې | | WHO | ۲۰۱٦ | دهیواد په ټولوولسوالیو کی د ناروغیو د ژرخبرداري د ۱۵۰ ساتندوئی مرکزونو جوړونه (DEWS) |
| د کلسترو تر مینځ | په ټول هیواد کې | زلزلی اغیزمن کړي | IOM | نوامبر ۲۰۱۵ | چټکه بشري ارزونه |
| د کلسترو تر مینځ | په ټول هیواد کې | د بیځایه شو وګړو بیځایه کیدو اوږدیدنه | OCHA | ۲۰۱٦ | څو سکتوریز بشري اړتیاوی |

# مخففات

| | |
|---|---|
| AFN/KG | افغاني/یو کیلوګرام |
| ANC | د زیږون وړاندې مراقبت |
| BPHS | د روغتیایي خدمتونو بنسټیزه کڅوړه |
| CHF | د بشردوستانه مرستو ګډصندوق |
| DEWS | په بیړني ډول د ناروغېو خبرونکي سیستم |
| ERW | له جګړې ځخه پاتې چاودیدونکي توکي |
| FAO | د ملګرو ملتونو د خوړو او کرهنې اداره |
| FEWS NET | د قحطي خبرونکي د سیستم شبکه یا فیوزنیت |
| GAM | نړیواله حاده خوارځواکي |
| GBV | د جنسیت په بنسټ تاوتریخوالي |
| HLP | کور، ځمکه او شتمني |
| HNO | بشري اړتیاوو ته بیا کتنه |
| HRP | د بشري غبرګون پلان یا کړنلاره |
| IDP | داخلي بې ځایه شوي وګړي |
| IED | په لاس جوړ شوي چاودیدونکي توکي |
| IHL | نړیوال بشري قانون |
| IOM | د کډوالۍ نړیوال سازمان |
| IPC | د خوړو د خوندیتوب تولیزه درجه بندي |
| IMAM | د حادې خوارځواکۍ جامع مدیریت |
| IYCF | د نوي زیږدلي او وړو ماشومانو تغذي |
| NFI | غیري خوراکي توکي |
| NNS | د تغذۍ ملي سروې |
| NSAG | غېري دولتي وسلوالې ډلې |
| OCHA | د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ اداره |
| OPD | له بستر کولو پرته د ناروغانو درملنه |
| PIN | اړ وګړي |
| PLW | امیدوارې او شیدې ورکونکې میندې |
| PMT | (د شخړو له امله) د وګړو د خوځښت او تګ راتګ په ګوته کول |
| PNC | د زیږون وروسته څارنه |
| RAF | (د طبعي پیښو) د چټکي ارزونې فورمه |
| SAM | جدي حاده خوارځواکي |
| SFSA | د خوړو د خوندیتوب موسمي ارزونه |
| UNHCR | دکډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونوعالي کمشنري |
| UNICEF | د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو وجهي صندوق |
| WASH | اوبه او حفظ الصحه |
| WFP | د ملګرو ملتونو د خوراک نړیوال سازمان |
| WHO | د روغتیا نړیوال سازمان |

www.unocha.org/afghanistan

www.humanitarianresponse.info/en/operations/afghanistan

@OCHAAfg